محمد اسحاق برکت
ویرجینیا - امریکا

نومبر- ۲۰۰۸

## د شاه اولیا صاحب کرامات

## او پیرزویني او د کونډې زوی

## طــنز

یوه ډېره پخوانۍ کیسه ده او وایي، له کابل جانه لېرې د وطن په کوم کوټ کې یو ډېر زیار ایستونکی او لایق هلک چې پلار یې مړاو مور یې
د ده پالنه او روزنه کوله، له شپږم نه فارغ او د لوړو زده کړولپاره کابل ته ستون شو. له بده مرغه د ده له رسېدو مخکې د ( ابن سینا او دارالمعلمین)
دواړو چې په هغه وخت کې یواځینۍ لیلیه لیسې وې او د دغسې خلکو
له پاره جوړې سوېوې، بستونه لا دمخه ډک او پوره شوېوې او په نهاري لیسو کې دده وسه نوه چې خپلو زده کړوته ادامه ورکړي.

خوارکی هره خوا ګرزېده او د بیوسی په لومو کې یې تر پکې وهلې، نــه پوهېده چې خپل آرمانونه له چاسره غوټه کړي اوچېرته لاړشي؟
خو خدای یوه ورځ دی له یوه نوماند لیکوال سره مخ کړ، لیکوال صاحب په هلکي کې د لیاقت او ذکاوت نښې ولیدې د انسانی او اخلاقی احساس له مخې یې هغه یو شاعر ته وپېژاند ترڅو هغه ته څه ورزده کړي.
څه موده لا نوه تېره سوې چې په خلکو کې د ( شاه اولیاصاحب) د زیارت ګونګوسې خپرې کېدلې او خلکو دتلو تیاری نیوه. هلکی هم د خــپل د زړه آرمانونو د پوره کېدو په موخه هلته د تګ ملا وتړله، شپې او ورځې یې په کوټو شمېرلې، تر څو یې هلته ځان ورساوه او لپې یې صاحب تــه پورته کړې او خپل ټول آرمانونه یې ترې وغوښتل.
سبا چې د زیارت ورځ وه ، هلکی د خلکو په ګڼه ګونه کې په یوه ځګــه ودرېده او د خپل زړه خوالې، آرمانونه اوغوښتنې یې چې د خلکو لـــــه غوښتنو سره هم برابر وو ، د خپل اخلاص او ارادت څرګندولو سره یـــو ځای دیوه بې نظم او قافیې شعر په ډول څرګند او بیان کړلوچې په هره مرحله کې به د خلکو په چکچکو او تکبیرونو بدرګه کېده او دم په دم به د خلکو زړه سواند په ده ډېرېده ترهغه چې هلکی ته یې په یوه ګو ښــه کې ځادر وغوړاوه اودپیسو وربانډې باران شو.

مراسم پایته ورسید او هلکي پیسي وشمېرلي، څه يي په جـېبونـو کي او نوري يي د څادر په گوښه کي غوټه کړي او سبا ګهیځ وختي کابل تـــه ستون شو په ډېره خوشالۍاو خندانه ډکه خوله کابل ته ورسېده.

هغه لیکوال او خپل استاد ته يي ښایسته، ښایسته سوغاتونه واخیستل او ځانته يي هم ښي جامي او ښایسته شانتي لوکسه دریشي جوړه کړه. بله ورځ يي ټول سوغاتونه هغوی ته وسپارل او ټوله کیسه يي استاد ته بیان کړه. استاد چي دا کیسه واورېده سر له ننه يي د بل کال د زیارت د تلو په موخه تیاری نیوه - کال ډېر ژر تېر شو، شاعر هلته تللی وو او د زیارت په ورځ بیا د خلکو په ګڼه ګونه کي په یوه جګ ځای ودرېده او د خپل شعر په لوستلو يي پیل کړ. د هیچ چا ورته پام نشو او هیڅ څوک يي په خبرو نه پوهېده دا ځکه چي د شعر معنی او مفهوم د عوامو خلکو له کچېنه ډېره لوړه وه؛ خوارکی پخپل ځا وچ لکه لرګی پاتي شــــو او هري خواته يي ناامیده کتل، خلک به دېخوا هغه خوا جوپه - جوپـــه ترې تیرېدل او د هیچ چا زړه پرې ونه سوزېده او چا څه ورنکړل- خوارکی ډېر په غصه او قهرجن وو- نو مخامخ شاه صاحب ته و درېده او وېویل:-

**شاه صاحب! تر سترګو دي جار شم- د خدای نازولی يي او د پیغمبر د سترګو تور- هرڅه دي له لاسه کیږي- هر چا ته هر شی ورکولی شي- خلکو ته دي ښي ډېري پیسي ورکړې- مقامونه، منصبونه ،عزت او... چا ته چي وغواړې ورکولی شي خو:**

کسم دی که په شعر باندي ذره او بڅر کي پوهېږي او د شاعر له کوڅې نـه تېرشوی يي!! ځــه! په مخه دي کېږي - کېږي ګلونـه- توره رهي، مه ره رهي!! بیا به دي نوم وانخلم٠ ؟؟؟

کله چي سړی دغه کیسه واوري- نو د ولسمشرصاحب د تخت کښېناستو کیسه ورپه یاد شي.

هغه وخت چي جناب کرزی صاحب د بن له ناولي پرېکړې وروستـــه د امریکي په شنه ډولۍ(۱) کي کابل ته راوستل شو او بیا شاهي ماڼۍ تــه آهسته برو شو؛ ډېرو کچه شاعرانو هغه ته بی نظمه او بېقافیه شعرونـــه وویل او ټولو ډېر ښه ښه مقامونه ترلاسه کړل، په زرکونو جنرالي رتبــې واخیستلي د دولت ټول ملکی او نظامي چوکۍ يي پخپله ولکه کي راوستلي، ډېرو شخصي او ملي جایدادونه غصب کړل، د خلکو په ننګ او ناموسونو باندېيي تعرضونه وکړل او دالرۍ به که دغه دېګ اوکاســـه وي- دوام ولري.

نو اصلي شاعران کومو چي په اشعارو کتابونه ډک کړي او په ټولو شیانو ډېر ښه پوهېږي، هغوي وشړل شول، ورټل شول او تر ننه پوري؟؟!!

**نو اوس دوی وایي:-**

**کرزی صاحب! تر سترګو دي کوربان شم-!!**

**تههم د امریکي نازولي او انګرېزانو د سترګو توريي- هر شی دي له لاسه کیږي- هرچاته هر شی ورکولی شي- خلکوته دي ښه ښه رتبې- مقامونه - منصبونه او فرصتونه – عزت او چا ته چي څه غواړي ورکولی شي خو:**

(کاره په اهل کار سپردن) باندی هیڅ نه پوهېږي او یا هیڅ دی ونکړل،
ځــه! په خدای مي سپارلی يي او مه زاره؟؟

| | |
|---|---|
| چي په مرو – مرو اوښکو ژاړي | راته وو ایه څه غـــواړي؟؟ |
| موردي جار شه لـــــه زرانـــه | په ژړا حقونـــه غواړ ي؟؟ |

که په دغي لار روان يي، نومه ره رهي، توره رهي!! بیا به دي نوم وانخلم؟؟؟

(۱) ببرک کارمل په سره ډولۍ کي راوستل شوی وو. والسلام